eilia.org



## «د ولسمشر فرمان» مې څنګه ولیکه؟

درې کاله مخکې د مزار شریف په یوه خصوصي روغتون کې له یوه هندي ډاکتر سره مخ شوم، سړی په مسلک کې خورا ضعیف خو په نورو کارونو کې بلا و، همکارانو یې له بد چلنده شکایت کاوه خو ده زموږ د دولت له غټو کسانو سره پخه انډیوالي درلوده. پوښتنه راته پیدا شوه چې د دوی د انډیوالۍ وجه به څه وي. دی په څو میاشتو کې د شمال په ډېرو ځایونو کې تر موږ زیات بلد شوی و، د خلکو په باره کې یې داسې معلومات پیدا کړي وو چې خپله مزاریان وربانـدې نه وو خبر. هسې راته شک پیدا شو چې دی به جاسوس وي. دغه شک راته د دې ناول د لیکلو خیال پیدا کړ.

په خیال کې مې د جاسوسۍ شبکه جوړه کړه چې ایران، هند او روسیې په ګډه سره جوړه کړې وي. د ناول په لیکلو لګیا وم چې د ملي امنیت ریاست اعلان وکړ چې د دوی کارکوونکي د طالبانو په جامه کې ایران ته تللي، هورې سپاه پاسداران ورته د ترهګرۍ درسونه ورکړي دي. دې خبرې زما خیالي شبکه لا غښتلې کړه.

ناول چې بشپړ شو، رسنیو دا خبره هم افشا کړه چې ارګ له ایرانه پیسې اخلي، ولسمشر هم ځنې منکر نه شو. وروسته د لیکوال او ژورنالیست رزاق مامون پر مخ تېزاب وشیندل شو، ده په افغانستان کې د ایران د لاسوهنو په اړه لیکنې کولې او ادعا یې وکړه چې دا د ایران کار و.

eilia.org



بیا «امروز» تلویزیون د یوې مودې لپاره بند شو،

د دې تلویزیون رییس نجیب الله کابلي وویل چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دا کار د ایران په سپارښتنه کړی دی، ها بله ورځ کابلي خبر ورکړ چې «سپاه پاسداران» د ده د تښتولو پلان جوړ کړی و خو پلان یې شنډ شو. د افغاني فلمونو په دوو فیستیوالونو کې د اسد سکندر او زبیر فرغند فلمونه «همسایه» او «مدرسه» ننداري ته پرې نه ښودل شول، دوی هم دا د ایران کار وباله ځکه چې د دوی فملونو په ایران کې د افغان مهاجرو بد حالت انځور کړی و. په دې توګه ورځ تر بلې د ایران د ورانکاریو په اړه شواهد او ګومانونه زیات شول او د ناول د پېښو منلو ته یې لاره هواره کړه.

په دې ناول کې جاسوسي شبکه طالبانو ته طیاره ویشتونکي راکټونه ورکوي. د ناول تر بشپړېدا وروسته، د امریکا او ناټو د چورلکو د غورځېدو پېښې زیاتې شوې، دوی هر وار پېښه د تخنیکي ستونزو له کبله بللې ده خو طالبانو هر ځل د الوتکو د ویشتلو ادعا کړې ده.

دې پېښو د ناول رښتیا غوندېتوب زیات کړی، تر دې چې یوه ملګري مې راته وویل: «ما چې ستا ناول ولوست، وبوږنېدم، ګومان مې وکړ چې دا هرڅه به په رښتیا پېښ شوي وي»

تېر کال مې د اېمل پسرلي «لټون» پولیسي۔ ناول ولوست. لا مې د ناول ټولې برخې په یاد وې چې د کابل په تایمني کې یو مشهور ډاکتر د خپل کلینیک په څو مترۍ کې وتښتول شو. ډاکتر د ډېرو پیسو په ورکولو راخوشې شو. جالبه دا

وه چې تر ډېره بریده پېښې هماغسې واقع شوې وې چې د اېمل پسرلي په ناول کې راغلې وې، ان د پېښېدو ځایونه یې تقریباً هماغه ځایونه وو. دا خبره مې اېمل پسرلي ته وکړه. هغه وویل: «نه پوهېږم په دې خبره خوشحاله شم که

eilia.org



خپه؟» کـه «لټـون» نـاول تـر دې پېښـې وروسـته لیکل شوی وای، سړي به ګومان کاوه چې لیکوال همدغه پېښـه انځـور کـړې ده خو ناول تر پېښې یو کال مخکې چاپ شوی و.

زما د ناول هر څپرکی د یوه خاص کرکټر له لیدلوري لیکـل شـوی دی، مـثلاً اول څپرکی تر نیمایي پورې (تر هغه ځایه چې درې ستوري راځي) د ډاکتر حمیـد او وروسته د اجمل له لیدلوري بیان شوی دی، د دویم څپرکي پېښو ته د میوند لـه لیدلوري کتل شوي دي او همداسې تر پایه هر څپرکی ځانته لیدلوری لـري. پـه ناول کې ځینې واقعي پېښې راخیستل شوي دي لکه پـه لغـمان کـې د فرانسـوي ژورنالیستانو تښتول او په دارالامان کې د کوچیانو او هزاره ګانو ترمنځ نښته. پـه ناول کې دوه کرکټرونه واقعي کسانو ته ورته دي، یو ډاکتر سورج دی چې الهـام یې هماغه هندي ډاکتر راکړی دی، بل ضرب علي، ضرب علي د ډاکـتر نجیـب الله په واکمنۍ کې د کابل په هوایي ډګر کې افسر ـ و، تخلـص یـې انـډیوال و او داسې پښتو یې ویله چې تا به ویل له مور و پلاره پښتون دی حال دا چې هزاره و. د ناول نور ټول کرکټرونه خیالي دي.

ناول مې تـر چـاپ مخکـې ښـاغلیو اسـدالله غضـنفر، نجیـب اللـه مـنلي، اجمـل پسرلي، علم ګل سحر او صدیق الله بدر ته ورښکاره کړی و. له دوی مننـه کـوم چې ځینو تېروتنو ته یې ځیر کړم، په تېره بیا اجمل پسرلي په ناول کې د زمـان د ښودلو په برخه کې ښې مشورې راکړې او د ځینو برخو په اړه یې راته وویل چـې باید تصویري یې کړم.

څنګه چې زموږ وطن کې د پردیو جاسوسي فعالیتونه کم نه دي نو کېدای شي د دې ډول ناولونو د لیکلو لپاره ډېرې سوژې په لاس راشي. هیله ده چې دغه ناول به د ګڼو جاسوسي ناولونو پیلامه شي.

